د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 459**

( 15 - 20 مرغومی 1403 هـ ش)

## د اسلامي امارت او پاکستان جګړه؛ پر دوه اړخیزو اړیکو یې اغېزې



**دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.**

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د اسلامي امارت او پاکستان جګړه؛ پر دوه اړخیزو اړیکو یې اغېزې ........ 3
- د اړیکو د خرابېدو لاملونه ........ 4
- پر اقتصادي اړیکو د خرابو سیاسي اړیکو اغېزې ........ 5
- دوه اړخیزې اړیکې څنګه ښه کېدای شي؟ ........ 6
- پایله ........ 7
- مأخذونه ........ 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د اسلامي امارت او پاکستان جګړه؛ پر دوه اړخيزو اړيکو يې اغېزې

### سریزه

اسلامي امارت د خپلې واکمنۍ په لومړۍ دوره کې له پاکستان سره نږدې اړيکې درلودې، د متحده عربي امارتو، سعودي عربستان په ګډون پاکستان هغه هېواد و چې د افغانستان اسلامي امارت يې په رسميت پېژندلی و،[1] همدارنګه پاکستان له اسلامي امارت سره اقتصادي همکارۍ کولې او په نظامي برخه کې يې د اسلامي امارت مجاهدينو ته د تعليم زمينه هم برابره کړې وه.[2] کله چې په ۲۰۰۱ز. کال کې د سپتمبر يوولسمه پېښه وشوه او امريکا متحده ايالاتو د مشروع دفاع په نوم جګړه اعلان کړه، نو په دې جګړه کې يې پاکستان د لومړۍ کرښې متحد شو. پاکستان د افغانستان اسلامي امارت په ړنګولو کې له امريکا متحده ايالاتو سره لاس يو کړ او د اقتصادي مرستو او بنديزونو لرې کولو په بدل کې يې امريکايانو ته اډې او لاره ورکړه[3] چې له امله يې د افغانستان اسلامي امارت ړنګ شو. تر ۲۰۰۵ز. کال پورې اسلامي امارت او پاکستان اړيکې تقريباً پرې وې او پاکستان د افغانستان په جګړه کې له متحده ايالاتو سره صادقانه چلند کاوه، خو کله چې په ۲۰۰۵ز. کال کې د هند او امريکا متحده ايالاتو ترمنځ د ستراتيژيک پارټنرشېپ تړون لاسليک شو چې دواړو لوريو د دې تړون له لارې  هوکړه وکړه چې د ملکي اهدافو لپاره د اتومي فعاليتونو ترسره کولو، ملکي فضايي پروګرام او د لوړې ټکنالوژۍ سوداګرۍ په برخه کې به له يو او بل سره همکاري  کوي، نو پاکستان هم له متحده ايالاتو څخه د ورته تړون د لاسليکېدو غوښتنه وکړه، ځکه دغه ډول تړون د اتومي پروګرام د رسميت پېژندنې يوه لاره وه، خو متحده ايالاتو له پاکستان سره د دغه ډول تړون د لاسليکېدو څخه انکار وکړ[4]، نو پاکستان فکر وکړ چې متحده ايالات له دوی سره ريښتونی چلند نه کوي، ځکه په افغانستان کې د بريدونو لپاره خاوره زما استعمالوي، قرباني پر موږ ورکوي او دا ډول تړون له هند سره لاسليکوي، نو پاکستان د امريکا متحده ايالاتو پر وړاندې پر خپله پاليسۍ بياځلي غور پيل کړ او په افغانستان کې يې د حکومت مخالفو ډلو پر ملاتړ پيل وکړ او له دې وروسته د پاکستان او اسلامي امارت اړيکې يو ځل بيا ټينګې شوې.

په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي  امارت بياواکمنۍ ته  پاکستان خوښ و چې  د نورو لاملونو ترڅنګ يو  ستر لامل په افغانستان کې د هند د نفوذ پای ته رسېدل و او غوښتل يې چې له اسلامي امارت سره ښې اړيکې ولري، پاکستان په اسلام اباد کې افغان سفارت اسلامي امارت ته وسپاره او په کابل کې يې هم خپل سفارت پرانېستی پرېښود، په لوړه کچه د دواړو هېوادونو استازو د يو او بل هېواد ته سفرونه وکړل او داسې تمه کېده چې د دواړو هېوادونو اړيکې به ډېر ښه راتلونکی ولري، خو په وروستيو کې د نورو دلايلو ترڅنګ د امنيتي موضوعاتو پر سر د دواړو حکومتونو اړيکې خرابې شوې دي[5].

د ۲۰۲۴ز. کال د ډسمبر پر ۲۴مه نېټه پاکستاني پوځيانو د پکتيکا پر برمل سيمه بريد وکړ چې د ښځو او کوچنيانو په ګډون ګڼ افغانان شهيدان شول. پاکستان ادعا کړې چې دوی په دغه سيمه کې د پاکستان د

طالبانو اسلامي تحریک ګڼ غړي او مشران په نښه کړي چې د پاکستان په وروستیو امنیتي پېښو کې یې لاس لاره. اسلامي امارت هم د غچ اخیستنې په موخه د د ډسمبر پر ۲۸مه نېټه د شنبې پر ورځ د ډیورنډ کرښې هاغې غاړې ته پر ځینو پاکستاني پوستو بریدونه کړي دي او ادعا یې کړې چې پاکستاني پوځیانو ته یې تلفات اړولي دي.[6]

## د اړیکو د خرابېدو لاملونه

د اسلامي امارت د بیاځلي واکمنۍ وروسته داسې فکر کېده چې د اسلامي امارت او پاکستان اړیکې به د تېرې دورې په څېر نږدې وي، ځکه د اسلامي امارت بیاځلي واکمنۍ ته د پاکستان حکومت ښه راغلاست ویلی و او د تېر جمهوري نظام پر سقوط یې خوښي ښودلې وه. د پاکستان لومړي وزیر عمران خان د جمهوري نظام سقوط او د اسلامي امارت بریا د غلامۍ د زولنو ماتو ګڼلي وو، خو د یو څه وخت په تېرېدو سره د دواړو حکومتونو سیاسي اړیکې له ننګونو سره مخامخ شوې او د دغو خرابو اړیکو درې ستر لاملونه په ګوته کولای شو:

۱- د ډیورنډ فرضي کرښې د نه منلو په اړه د اسلامي امارت دریځ: د اسلامي امارت د دفاع وزیر مولوي محمد یعقوب مجاهد له طلوع نیوز سره په مرکه کې په څرګندو ټکو وویل: «د ډیورنډ کرښه یوه فرضي کرښه ده او کله هم چې افغانانو غوښتنه وکړه موږ به دا موضوع له اسلام اباد سره راپورته کړو، خو تر هغې وړاندې باید خپلې داخلي ستونزې حل کړو.»[7]

همدارنګه د بهرنیو چارو د وزارت سیاسي مرستیال شېرمحمد عباس ستانکزي په لوګر کې له افغانستان څخه د شوروي اتحاد پوځیانو د وتلو د ۳۵مې کلیزې د نمانځلو په مراسمو کې وویل: موږ به هیڅکله د ډیورنډ کرښه د رسمي پولې په توګه ونه منو. د افغانستان د خاورې یوه برخه اوس هم د دغې کرښه اخوا پرته ده. همدارنګه نوموړي زیاته کړه: په دغه کرښه پر پاسپورټ او ویزو تګ او راتګ هیڅکله د منلو وړ نه دی.[8]

د ډیورنډ کرښې په اړه د اسلامي امارت د لوړو پوړو چارواکو دا ډول څرګندونې د دواړو هېوادونو پر سیاسي اړیکو منفي اغېزې کړې دي او له دې په ډاګه معلومېږي چې د دواړو هېوادونو د سیاسي اړیکو پر وړاندې د ډیورنډ قضیه یوه ننګونه ده.

۲- د پاکستان له لوري د افغان مهاجرینو اجباري ویستل: د پاکستان حکومت د معلوماتو پر بنسټ په دغه هېواد کې ۴ میلیونه افغان کډوال اوسېږي چې له دې یې ۲.۳ میلیونه کډوال د حکومت له خوا تایید شوي اسناد لري او پاتې ۱.۷ میلیونه کډوال اسناد نه لري او ناقانونه اوسېږي. د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر پر دریمه نېټه پاکستان اعلان وکړ چې ټول ناقانونه افغان کډوال به د اکتوبر میاشتې تر پای پورې خپل هېواد ته ستنوي.[9] د ۲۰۲۳ز. کال د جولای په میاشت کې د مهاجرینو نړیوالې کمېټې د یو راپور پر بنسټ په ۲۰۲۱ز. کال کې د اسلامي امارت له بیا واکمنۍ راهیسې له شپږ سوه زرو زیات افغانان پاکستان ته کډوال شوي چې

ټول يې بې اسنادو دي.[10] د اسلامي امارت د وياند ذبیح الله مجاهد په وينا نږدې يوه نيمه مياشت کې يعنې د ۲۰۲۳ز. کال د اکتوبر مياشت له پيل څخه د نومبر مياشتې تر شلمې نېټې پورې څلور سوه زره افغان کډوال د تورخم او سپين بولدک له لارې بېرته خپل هېواد ته راستانه شوي دي.[11]

پاکستان اکثره وخت د افغان مهاجرينو له قضيې څخه د سياسي فشار په توګه ګټه اخلي او د اسلامي امارت په مقابل کې يې هم ورته اقدام وکړ، يعنې پاکستان، اسلامي امارت تورنوي چې د دوی د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحريک څخه ملاتړ کوي او د همدغه ملاتړ د ختمولو او يا هم دا چې اسلامي امارت د پاکستان د طالبانو اسلامي تحريک په لمنځه وړلو کې له پاکستان سره همکاري وکړي او د همدغې همکارۍ د جلب په موخه يې د مهاجرينو د اجباري اخراج له قضيې څخه د فشار د وسيلې په توګه ګټه واخيسته.

۳- درېيمه او مهمه قضيه چې په دې وروستيو کې همدا قضيه د اړيکو د خرابېدو ستر لامل شوې هغه د پاکستان د طالبانو اسلامي تحريک قضيه ده. د افغانستان اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ د خرابو سياسي اړيکو بنسټ امنيتي اندېښنې او ننګونې دي. دا ننګونې دواړو اړخونو ته متوجې دي، پاکستان دعوه کوي چې د افغانستان اسلامي امارت د پاکستان د طالبانو له اسلامي تحريک څخه ملاتړ کوي، دوی ته په افغانستان کې پټنځايونه برابروي، په پاکستان کې د دوی له بريدونو ملاتړ کوي او تر دې چې افغان طالبان خپله د TTP په ليکو کې د پاکستان د حکومت خلاف جنګيږي. د افغانستان اسلامي امارت دعوه کوي چې پاکستان د افغانستان پر خاوره بريدونه کوي او د ډيورنډ پر کرښه امنيتي ستونزې جوړوي. له دې دوه اړخيزو تورنو داسې معلومېږي چې د امنيتي ننګونې بنسټ د پاکستان د طالبانو اسلامي تحريک يا TTP دی، څکه که پاکستان د افغانستان پر خاوره بريدونه کړي دي، نو پاکستان وايي چې دغه بريدونه يې د TTP پر مرکزونو کړي.

## پر اقتصادي اړيکو د خرابو سياسي اړيکو اغېزې

د پورتينو لاملونو پر بنسټ چې کله د اسلامي امارت او پاکستان اړيکې خرابې شوې، نو دغو خرابو اړيکو د دواړو هېوادونو ترمنځ پر سياسي، اقتصادي او ټولنيزو-فرهنګي اړيکو منفي اغېزه کړې ده. پر سياسي اړيکو يې منفي اغېزه دا ده چې پاکستان د اړيکو د خرابېدو څخه مخکې په بېلابېلو نړيوالو سټيجونو د اسلامي امارت دفاع کړې، په سيمه ييزه کچه يې د سيمې د هېوادونو سره په ګډه په افغانستان کې د حکومت د پياوړتيا لپاره هلې ځلې کړي او پر سياسي لحاظ يې داسې کومه کړنه نه ده ترسره کړې چې هغه د اسلامي امارت حيثيت ته صدمه ورسوي او د رسميت پېژندنې پر وړاندې خنډ رامنځته کړي، خو کله چې اړيکې خرابې شوې، نو پاکستان په بېلابېلو نړيوالو سټيجونو پر اسلامي امارت تور پورې کړی چې دوی په پاکستان کې د پاکستان د طالبانو اسلامي تحريک څخه ملاتړ کوي او د افغانستان خاوره د دوی پر ضد کارول کېږي، همدارنګه په سيمه ييزه کچه د افغانستان په اړه په سيمه ييزو غونډو کې د ټولشموله حکومت او بشر حقوقو

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

قضیه هم مطرح کوي چې دا پر اسلامي امارت د سیاسي فشار واردولو وسیله ده چې له امله یې پر سیاسي اړیکو منفي اغېزه کړې ده.
همدارنګه د اړیکو د خرابېدو له امله اقتصادي اړیکې هم اغېزمنې شوي دي او د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګرۍ کچه ورسره راټیټه شوې ده. د افغانستان او پاکستان د ګډې سوداګرۍ خونې مرستیال ضیاالحق سرحدي وایي چې په ۲۰۲۴ز. کال کې د پاکستان او افغانستان ترمنځ د سوداګرۍ کچه له دوه نیم میلیارده ډالرو څخه ۷۰۰ میلیونه ډالرو ته راښکته شوې  ده او ستر لاملونه یې په افغاني اجناسو د تعرفې لوړېدل، د ځینو توکو ممنوعه لست کې  شاملول او د افغان سوداګرو نږدې ۳۰۰ کانتینرونه نیول دي.[12]
له پورتنیو ارقامو او دلایلو په ښکاره معلومېږي چې له یوې خوا د سوداګرۍ د کچې راټیټېدل د سیاسي اړیکو د اغېزې له امله دي او له بلې خوا پر افغان اجناسو بندیز، افغان سوداګرو کانتینرونه نیول او د تعرفې لوړول د خرابو سیاسي اړیکو لوري ته اشاره ده، چې له امله یې د دواړو لوریو ترمنځ د سوداګرۍ کچه راټیټه شوې ده.
په ۲۰۲۱ز. کال د اګست په میاشت کې د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته د سیاسي اړیکو د خرابېدو له امله څو وارې د پاکستان او اسلامي امارت ترمنځ په تورخم او یا هم سپین بولدک پوله کې ستونزې رامنځته شوې او پولې د خلکو د تګ او راتګ په ګډون د سوداګرۍ په موخه هم څو وارې تړل شوې، چې د دواړو لوریو سوداګرو ته یې مالي زیان اړولی دی. د ۲۰۲۳ز. کال د فبرورۍ په میاشت کې د اسلامي امارت له لوري د تورخم دروازه د هر ډول تګ او راتګ او سوداګرۍ لپاره وتړل شوه، دغه دروازه درې ورځې بنده وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګري ورسره په ټپه ولاړه وه او د دواړو هېوادونو ترمنځ په اقتصادي اړیکو یې هم منفي اغېزه وکړه. د پاکستان او افغانستان د ګډې سوداګرۍ او صنعت خونې مشر سید ضیاالحق سرحدي په وینا د تورخم د دروازې تړلو له امله دواړه لوریو ته ٦۰۰۰ ټیلرې او لوی ګاډي بند پاتې وو چې دواړو لوریو ته یې میلیونونه ډالر زیان اړولی دی. د اسلامي امارت د چارواکو په وینا دروازه یې له دې امله تړلې چې پاکستاني لوري د ټرانزیت او ناروغانو د پرېښودو په برخه کې په خپلو وعدو وفا نه کوله.[13] د همدغو سرحدي او سوداګریزو شخړو د حل په موخه د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر امیرخان متقي او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر بلاول بهټو زرداري د ۲۰۲۳ز. کال د مۍ په میاشت کې په اسلام اباد کې سره وکتل او دواړه لوري دې هوکړې ته ورسېدل چې دوه اړخیزه سوداګرۍ ته به پراختیا ورکوي، د تروریزم په خلاف به سره جګړه کې همکاري کوي او سرحدي اندېښنې به پای ته رسوي.[14]
په ۲۰۲۴ز. کال کې  هم څو وارې د دروازو د تړل کېدو پېښې رامنځته شوې، لنډه دا چې کله چې د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې خرابې شوي، نو هغه ځینې وخت د دروازو په تړلو منتج شوي چې  له امله یې سوداګرۍ زیان لیدلی دی.

## دوه اړخیزې اړیکې څنګه ښه کېدای شي؟

د اسلامي  امارت او پاکستان ترمنځ ښې اړیکې د دواړو هېوادونو په ګټه دي. ښې اړیکې کولای شي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ اقتصادي راکړه –ورکړه پیاوړې کړي، د دواړو هېوادونو ترمنځ د باور فضاء رامنځته کړي، سیمې ییزې ګډې اقتصادي پروژې عملي کړي، په نړیواله کچه په سیاسي ډګر کې له یو او بل څخه ملاتړ وکړي، ځینو مهمو او لانجمنو سیمه ییزو قضیو په اړه ګډ دریځونه ونیسي او داسې نور...
د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو د ښه کېدو په اړه ځینې لارې چارې موجودې دي چې  کېدلای شي دلته ترې یادونه وکړو:

- چین هغه هېواد دی چې په دې وروستیو کې د اسلامي امارت سره نږدې اړیکې لري او له بلې خوا د پاکستان هم پخوانی ستراتیژیک ملګری دی. دغه ګډ ملګري ځخه کېدلای شي چې د اړیکو د پیاوړتیا او ښه کېدو په موخه د منځګړي په توګه ګټه واخیستل شي.
- په ګډو ځو اړخیزو سیمه ییزو اقتصادي پروژو کې کار کول. دا بله هغه لاره چاره ده چې کېدلای شي د دواړو هېوادونو ترمنځ سیاسي اړیکې نږدې کړي. کله چې اقتصادي اړیکې دوه اړخیزې وي، نو هغه د خرابو سیاسي اړیکو له امله اغېزمنېږي، یعنې کله چې سیاسي اړیکې  خرابېږي ورسره سم دوه اړخیزې اقتصادي اړیکې هم خرابېږي، خو که سیمه ییزې اقتصادي پروژې څو اړخیزې وي لکه کاسا- ۱۰۰۰ یا ټاپي، نو دغه ډول څو اړخیزې پروژې بیا د دوه دولتونو د خرابو سیاسي اړیکو له امله نه اغېزمنېږي، ځکه نور اړخونه دا دوه دولتونه مجبوروي چې د پروژې کارونه مخ ته یوسي، نو که په دغه ډول څو اړخیزو اقتصادي پروژو کې اسلامي امارت او پاکستان ګډ کار  وکړي، نو د دوی ترمنځ دغه ګډ کار د باور فضاء رامنځته کوي او د سیاسي اړیکو په رغولو کې هم رول  اداء کولای شي.
- دا دوه اړخیزې اړیکې هغه مهال لا نږدې کېدای شي چې پاکستان د افغانستان سیاسي حاکمیت ته احترام ولري او د یو خپلواک دولت په توګه ورته وګوري. کله چې اسلامي امارت ډاډه شي چې پاکستان له دوی سره د یو خپلواک او حاکم دولت په توګه چلند کوي، نو اسلامي امارت خپله مجبوریږي چې دوی هم د پاکستان سیاسي حاکمیت ته احترام ولري او د هغوی غوښتنو او اندېښنو ته ځواب ووایي.

## پایله

د اسلامي امارت او پاکستان ترمنځ د وروستۍ جګړې اصلي لامل د پاکستان د طالبانو اسلامي تحریک دی، پاکستان حکومت اسلامي امارت تورنوي چې دوی ټي ټي پي ته پټنځایونه برابروي او د ډیورنډ کرښې ا خوا له دوی سره همکاري کوي، سره له دې چې دا تورونه اسلامي امارت رد کړي او هر وخت یې دا خبره کړې د چې  د افغانستان خاوره به د چا پر ضد نه کارېږي، خو پاکستان د اسلامي امارت په دغو خبرو باور نه لري

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

او بيا يې هم په پکتيکا او نورو ځايونو کې هوايي بريدونه کړي او ادعا يې کړې چې هلته يې د ټي ټي پي جنګيالي په نښه کړي دي.

د پاکستان او اسلامي امارت دغه ډول سياسي اړيکې د دواړو هېوادونو د اړيکو راتلونکی له يو تياره حالت سره مخامخ کړې دی. پاکستان د افغانستان ستر ګاونډی هېواد چې تر ټولو اوږده پوله ورسره لري او له دغه هېواد سره خرابې سياسي اړيکې د دواړو هېوادونو په ګټه نه دي. د دوی خرابو اړيکو د دواړو هېوادونو پر اقتصادي اړيکو هم منفي اغېزه کړې او له بل پلوه يې په پاکستان کې مېشت افغان مهاجرينو هم منفي اغېزه کړې ده.

## مأخذونه

[1] Vito Morisco, "From Rebel Governance to Institutionalization? Prospects for the Taliban and Afghanistan", Austrian Institute for International Affairs, July 2023, P. 21, Access link: https://www.ssoar.info/ssoar/bitstream/handle/document/90184/ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf?sequence=1&isAllowed=y&lnkname=ssoar-2023-morisco-From_Rebel_Governance_to_Institutionalization.pdf and Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Hamad Shoukat, "Pakistan and the 2.0 Taliban (Islamic Emirate of Afghanistan) Regime New Scene", Cognizance Journal of Multidisciplinary Studies, Vol.4, Issue.8, August 2024, P. 252, Access link: https://www.researchgate.net/profile/Amanullah-Zarawar/publication/383816752_Media_Freedom_and_Censorship_A_Comparative_Study_of_Media_Freedom_under_First_and_Second_20_Taliban_Regime/links/66e84c680463442fa851d75d/Media-Freedom-and-Censorship-A-Comparative-Study-of-Media-Freedom-under-First-and-Second-20-Taliban-Regime.pdf

[2] Hamida Bibi, Muhammad Daniyal Khan and sana Saeed, "Regional Dynamics in Afghanistan: Unraveling the Roles of India, Pakistan, and China and Charting a Path Ahead", Guman Publications, VOL. 7 NO. 1 (2024), P. 2, Access link: http://www.guman.com.pk/index.php/GUMAN/article/view/707/679

[3] Ghulam Muhammad Chaudhry. "Historical Perspective of Pakistan-Us Relations and the USA's Afghanistan and South Asia Strategy: Implications for National Security of Pakistan with Policy Options to Maintain Strategic Balance in South Asia", Journal of the Research Society of Pakistan, Volume No. 55, Issue No. 2, July - December, 2018, P. 43, Access link: https://pu.edu.pk/images/journal/history/PDF-FILES/3_55_2_18.pdf

[4] Dr. Muhammad Muzaffar, Erum Hanif and Imran Khan, United States Foreign Policy towards South Asia: A Critical Analysis, Op.cit, P. 60.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[5] Amanullah Zarawar, Naveedullah Alokozay and Muhammad Numan, "A Comparative Analysis of Pakistan Relations with Afghan Taliban and with the Previous Afghan Government (2014 - 2021): Security Dilemma Perspectives, Research Journal of Social Sciences & Economics Review, Vol. 5, Issue 3, 2024 (July – September), P. 17, Access link: https://rjsser.org.pk/ojs/index.php/rjsser/article/view/696/387

[6] Abid Hssain, As Pakistan, Afghanistan attack each other, what's next for neighbours?, Aljazeera, 30 Dec 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/amp/news/2024/12/30/as-pakistan-afghanistan-attack-each-other-whats-next-for-neighbours

[7] TOLOnews YouTube Channel, Special Interview with Mala Yaqoob Mujahid, 57th Minute, Jun 15, 2023, Access link: https://youtu.be/uwgBK0Uc7hs?si=qanPh-CHj3f_4i6t

[8] TOLOnews, "Afghanistan Will Never Recognize Durand Line as Border: Stanikzai", 16 FEBRUARY 2024, Access link: https://tolonews.com/afghanistan-187446

[9] Abid Hussain, "'Why am I being sent back?' Hurt, anger for Afghans pushed out by Pakistan", Aljazeera, 3 Nov, 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/features/2023/11/3/why-am-i-being-sent-back-hurt-anger-for-afghans-pushed-out-by-pakistan

[10] Abid Hussain, "why is Pakistan planning to deport undocumented Afghans?", Aljazeera, 6 OCT, 2023, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2023/10/6/why-is-pakistan-deporting-undocumented-afghans

[11] MUNIR AHMED, "More than 400,000 Afghans have returned home from Pakistan following crackdown on migrants", The Associated Press, 20 NOV, 2023, Access link: https://apnews.com/article/pakistan-afghanistan-migrat-crackdown-df89dc612fcf8ee9aa138414ff2034ec

[12] Bayan News, Unprecedented Decline in Afghanistan-Pakistan Trade Volume, Dec 6, 2024, Access link: https://bayannews.af/en/2024/12/06/unprecedented-decline-in-afghanistan-pakistan-trade-volume/

[13] Thousands of trucks stuck at Afghan-Pakistan border crossing, Al-Arabiya News, 21 February ,2023, Access link: https://english.alarabiya.net/News/world/2023/02/21/Thousands-of-trucks-stuck-at-Afghan-Pakistan-border-crossing

[14] Pakistan, Afghanistan agrees to boost trade, lower border tensions, AlJAZEERA, 8 May 2023, Access link:

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.aljazeera.com/news/2023/5/8/pakistan-afghanistan-agree-to-boost-trade-lower-border-tensions

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

+93780618000

شمېره: +93780618000